محمد سمیع صادق ۲۰۲۱/۰۴/۱۶

عبدالباري جهاني ته پرانیستی لیک

سلامونه مي ومنئ قدرمن استاذه!

هر انسان دا حق لري چي د ادب په چوکاټ او استدلال په دایره کي خپل نظر په یو بحث کي مطرح کړي نو د بیان د آزادۍ په افادي سره زه هم غواړم چي ستاسو پر لاندني شعر باندي خپل مختصر نظر څرګند کړم.

ما درته ویلي وه چي کډه رقیبان به سي
خپل به مو وطن وي او خپلواک افغانستان به سي
چاچي نه منلي د خیبر او د میوند کیسي
نن به له دې خاوري مات هډونه ځي روان به سي
رابه سي موسی د کوه طور له معجزو سره
نیل به توپاني سي ډوب د مصر فرعونان به سي
وا به چوي ډار او زلزلي په پالنګونو کي
باد به سي، باران به سي، ژلی به سي، توپان به سي
ختمي به تیاري له کندهاره تر اټکه سي
بخت به مو راویښ سي را پخلا بوډی اسمان به سي
نن دي د ازل کاتب تاریخ له سره ولیکي
مېنه د میرویس به سي دوران د اکبرخان به سي
بیا به د ګودر له مازیګره وطن ښکلی سي
ټیک به سي، امپل به سي، پایل به سي، پېزوان به سي
نن که پسرلي که اخترونه راځي رادي سي
رنګي هدیرې به سي دا وران کلي ودان به سي
ما « د پردي کټ تر نیمو شپو» خبر ورکړی وو
تېښته یې بادار کوي مختوري غلامان به سي
ځي به له وطنه چي پردیو راوستلي وه
څوک چي فرنګي بابا ته ناست وه یتمیان به سي
اوس به د دې خاوري د مالک پته هم ولګي
مځکه د بابا چي یې بلله وارثان به سي

جهاني صاحب!

دا پورتنی شعر مو د لوستو ځوانانو او عام اولس د پراخ غبرګون سره مخ سو. دا زموږ د ځوان کهول د ویښتیا او فکري انکشاف هیله ښونکي نښه ده.

د شاعر په صفت ستاسو غوندي یو وتلی فرهنګي شخصیت په ادب کي د کره کتني له هنر سره مسلکي بلدتیا او بوختیا لري چي له دغه فن څخه مو خپله هم د ډېرو شاعرانو د کلامونو محاسبه کړي ده. همدارنګه ستاسو په شان د

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

پښتو یو نوموتی لیکوال د نورو پر لیکنو باندي د انتقاد یا تنقید له ابزاره هم بې خبره نه وي ځکه چي موږ ستاسو انتقادي لیکني پر افغان دولت، سیاسي اشخاصو، نهضتونو، او نورو بېلا بېلو متنازعو موضاعاتو باندي متواتر لولو نو څرنګه چي ستاسو د لیکوالی یو اړخ د نقد او انتقاد سره اړه لري، خپل پر وړاندي هم باید په دریا دلي سره د سالم انتقاد هرکلی وکړئ او شاید چي خپل پر دریځ تجدید نظر وکړئ ځکه چي تاسي هم زموږ په څېر بني آدم یاست او دا کېدای نه سي چي لید لوری مو خارق العاده وي.

پرېږدئ چي د جهاني نظر هم زموږ د ځوان نسل د تفکر په لابراتوار کي وسپړل سي، وڅېړل سي او تجزیه سي او د اهل بصارت، بصیرت او عقل تر آزمایښتونو تېر سي، که ئې نظریه سالمه وخته نو په کار ده چي د خپلو ارواحو خوراک ئې وګرځوو اما که چیري مضره ثابت سوه باید چي فکري او عقیدوي مخالفت ئې وسي تر څو داسي جدال آمېزه نظریه په ټولنه کي سرایت و نه کړي.

ښاغلي جهاني!

اوسنی عصر د محقیقینو دور دئ. هره خبره د تحقیق په میزان تلل کېږي تر څو وکولای سي د غوره وینا و مقام ته ورسېږي. دا ځوانان به پرېږدو چي خبري مو غلبېل کړي چي آیا تر هغو ملغلري را توېېږي او که صرف دوړه تري پورته کېږي.

ګرانه مشره!

ځیني وایي ستاسو د شعر تعبیر به ښایي د کوم صوفي د کرامت غوندي کوم بل عرفاني رنګ ولري چي درک ئې زموږ د معیوب عقل د فهم په حدودو کي نه راځي.

خو که دا شعر په ساده ټکو د وخت و فرمانروا ته پېغور، فرمانداری ته تکبر، د سرتېرو او ښاریانو سرښندونو ته تحقیر نه وای بلکه واقعا هم یو عرفاني نظم وای نو لامل ئې څه وو چي په بېړه ستاسو د فېسبوک له پاڼي څخه ړنګ کړل سو؟

او که په ریشتیا هم په استعاره او تشبیه یا په طنز او کنایه کي مو و مخاطبینو ته دا طعنه او مسخره وه نو بیا سوال دا دئ چي آیا په داسي حساسو شرایطو کي اړینه وه چي دا کرښي مو خپري سوي وای؟

استاذ محترم!

د ډېرونورو په څېر زما د حېرت انتها هم دغه ده چي په یو «غلام» یا مجبور دولت کي ستاسو په ډول د یو مختار او آزاد انسان ګډون څه توجیه لرلای سی؟ عمل او شعر مو د ضد و نقیض تر پارادوکس یا ملامتیا لاندي نه راځي؟

جهاني صاحب!

نه بیا باچا خان راځي، نه موسی، نه هم بېرته اکبر خان راځي. د سمبولیزم او رومانتیسیزم له نړئ څخه به راسو ریالیزم ته. اوس چي په وطن کي یو و نیمي ککرئ را پاته دي همدوی مو سرمایه ده، خپل له شخصي عقدو ئې مه قرباني کوئ، ملا ئې ور وتړئ او حمایه ئې کړئ. بس کړئ دا د قدماوو قصي، هغوی نړئ ته راغلل، خپله وظیفه ئې سر ته ورسول، خپل د برخي کار ئې وکړ، خپل ایماني او وجداني مسولیت ئې ادا کړ او بېرته ولاړل. ننی او وطني شرایط د اکبر، موسی او باچا تر دور او پېر ډېر توپیر لري.

دروند استاذه!

که ستاسو په اند د دې تحریر محتوا مو منطقي ده نو آیا همدغه ستاسو مذکوره زړي او ازمویل سوي نسخي زموږ ناروغ او ټپي هېواد رغولای سي؟ او که همدغه سیروم چي اوس ورته چالانه دئ، په همدې کڅوړه کي عصري او اغېزناکه دارو پکښي پیچکاری کوو تر څو وطن پر پښو درووو؟

محمد سمیع صادق

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ